بسم الله الرحمان الرحیم

# (د پښتو ژبې مهم او ضروري ګرامر )

Ketabton.com





ترتیب کوونکی : لقمان دانش ( ګلابزی)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱سوال : تربیه څه شي دی تعریف یې کړې ؟

۱ ځواب : د یو چا اماده کول د زده کړې لپاره تربیه بلل کیږي.

۲ سوال : تعلیم څه ته وایې ؟

۲ ځواب: د استادانو له خوا شاګرد ته د پوهې او هنر ښودلو ته تعلیم وایي.

۳ سوال : مهارت څه ته وایې ؟

۳ ځواب : د یو کار په منظمه توګه اجرا کولو ته مهارت وایي.

۴ سوال : هنر تعریف کړې ؟

۴ ځواب : په یو نوې شی باندې د یو شي کمول یا زیاتول تر څو د ښکلا مرحلې ته ورسیږي هنر بلل کیږي.

۵ سوال : مناجات څه ته ویل کیږي تعریف یې کړې ؟

۵ ځواب : الله (ج) ته په پټه عذر او زارې کول مناجات بلل کیږي.

۶ سوال : عدت څه ته ویل کیږي ؟

۶ ځواب :د یو کار ډیر تکرار عدت بلل کیږي.

۷ سوال : پوهه تعریف کړې ؟

۷ ځواب : د مثبتو علومو لاسته راوړل پوهه بلل کیږي.

۸ سوال : ذهنیت تعریف کړې ؟

۸ ځواب : د مسایلو په اړه فکر او احساس کول ذهنیت بلل کیږي.

۹ سوال : جمله تعریف کړې ؟

۹ ځواب : جمله یو عربي کلمه ده چې معنا یې ټولګه او مجموعه ده.

۱۰ سوال : جمله څو اساسې برخې لري؟

۱۰ ځواب : جمله دوه اساسې برخې لرې فاعل او فعل

۱۱ سوال : جمله په څو ډوله ده ؟



ترتیب کوونکي : لقمان دانش ( ګلابزی)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱ ځواب: جمله په دوه ډوله ده ۱ ساده ۲ مرکبه

۱۲ سوال : کلمه تعریف کړې ؟

۱۲ ځواب : د حروفو مجموعې ته کلمه ویل کیږي.

۱۳ سوال : متن څه ته وايې ؟

۱۳ ځواب : لوړې او نا هوارې ځمکې ته متن وايي او د تیرې زمانې کړاوونو څخه راوتلې وي او مونږته رارسیدلې وي.

۱۴ سوال : عبارت څه ته وايي ؟

۱۴ ځواب : دوه یا درې کلمې چې بشپړه معنا ونه لري عبارت دی.

۱۵ سوال : نظم تعریف کړې ؟

۱۵ ځواب : نظم په لغت کې د مرغلرو پیولو ته وايي او په اصطلاح کې چې وزن او قافیه ولري نظم بلل کیږي.

۱۶ سوال : نثر تعریف کړې ؟

۱۶ ځواب : نثر په لغت کې د مرغلرو شيندلو ته وايې او په اصطلاح کې چې وزن او قافیه ونه لري نثر بلل کیږي.

۱۷ سوال : وزن څه ته وايي؟

۱۷ ځواب : د څپو شمیر ته وزن وايي.

۱۸ سوال : قافیه څه ته وايي ؟

۱۸ ځواب : یو قسم یا یو رقم غږونو ته قافیه ویل کیږي.

۱۹ سوال : ارزښت څه ته ویل کیږي ؟

۱۹ ځواب : هر هغه شې چې مونږ ورته ضرورت لرو ارزښت بلل کیږي.

۲۰ سوال : اصطلاح څه ته وايي؟

۲۰ ځواب : ګړنې ته اصطلاح وايي.

۲۱ سوال : لغت څه ته وايي تعریف یې کړې ؟

۲۱ ځواب : لغت په لغت کې هغه کټورې ته وايي چې زرګران پکې د سرو زرو ذرات اچوي.





شاهین او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲ سوال : انسان څه ته وايي ؟

۲۲ ځواب : انسان د اونس له کلمې څخه اخيستل شوې چې معنا يې مينه او محبت دی.

۲۳ سوال : بنده څه ته ويل کيږي ؟

۲۳ ځواب : بنده د بندي څخه اخيستل شوې دی.

۲۴ سوال : ادب تعريف کړې ؟

۲۴ ځواب : ادب د هذب له کلمې څخه اخيستل شوې او هذب د تراشلې ونې په معنا دی او په اصطلاح کې د بې غيبه معنا لري او وروسته بيا هذب په ادب بدل شو.

۲۵ سوال: ادب لغوي معنا څه شی دي؟

۲۵ ځواب : پوهه، زيرکي ، عزت ، حاطر،تميز، تهذيب، زده کړه، حيا، تربيت، د ادب لغوي معنا ګاني دی.

۲۶ سوال : ادب تعريف کړې ؟

۲۶ ځواب : څه چې د چا سره مناسب وي ادب بلل کيږي.

۲۷ سوال : شعر تعريف کړې ؟

۲۷ ځواب : شعر په لغت کې نازک خيالې ته وايي او هر هغه کلام چې هنري ارزښت ولري شعر بلل کيږي.

۲۸ سوال : مسجع نثر تعريف کړې ؟

۲۸ ځواب : مسجع نثر هغه نثر دی چې اخيره کلمه يې د خبرو يو شان يا سجع وي.

۲۹ سوال : مسجع نثر مثال ووایاست ؟

۲۹ ځواب : ظاهر شاه راروان دی،ډير پهلوان دی،په ما ګران دی،زما ټولګيوال دی.

۳۰ سوال : عقل څه ته وايي ؟

۳۰ ځواب : عقل د عقال څخه اخيستل چې معنا يې ترل يا ګنډه کول دي.

۳۱ سوال : عدالت څه ته وايي؟

۳۱ ځواب : هر حقدار ته خپل حق سپارل عبارت د عدالت څخه دی.

۳۲ سوال : محمد نوم معنا کړې ؟



ترتيب کوونکي : لقمان دانش ( ګلابزې)
ليکوال : شهاب ( شاهين)

شاهين او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲ ځواب : محمد د احمد څخه اخیستل شوی چې معنا یې ستایل شوې دی.

۳۳ سوال : مصطفی څه ته وایي؟

۳۳ ځواب : مصطفی معنا خوښ کړای شوی ده.

۳۴ سوال : مرتضی څه ته وایي؟

۳۴ ځواب : مرتضی معنا چاڼ کړای شوی دی.

۳۵ سوال : اطلع څه ته وایی؟

۳۵ ځواب : د شعر لومړې برخې ته اطلع وایي.

۳۶ سوال : معنا څه ته وایي؟

۳۶ ځواب : د یو شی څرګندول، ښکاره کول، اسانول، اخیري انجام او مقصد ته معنا وایي.

۳۷ سوال : مقطع څه ته وایي ؟

۳۷ ځواب : د شعر وروستې برخې ته مقطع وایي.

۳۸ سوال : نظم په څو ډوله دی؟

۳۸ ځواب : نظم په دوه دی ۱ عروضي نظم ۲ ملي نظم

۳۹ سوال : ادبیات څو تاریخي سرچینې لري ؟

۳۹ ځواب :ادبیات درې تاریخي سرچینې لري (۱) لرغوني (۲) کلاسیکه یا منځنې (۳) معاصره یا اوسنې

۴۰ سوال : جمله په څو ډوله ده ؟

۴۰ ځواب : جمله په دوه ډوله ده (۱) ساده (۲) مرکبه

۴۱ سوال : ساده جمله کومې جملې ته ویل کیږي ؟

۴۱ سوال : ساده جمله هغه جمله ده چې د یو مبدا او خبر څخه جوړه شوې وي. مثال : احمد راغي

۴۲ سوال : مرکبه جمله تعریف کړې ؟

۴۲ ځواب : مرکبه جمله هغه جمله ده چې مبدا او خبر سره نورې کلیمې هم یو ځای شوی وي.
مثال : احمد سهار له بازاره راغي



ترتیب کوونکې : لقمان دانش ( ګلابزې)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

شاهین او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۳ سوال : مخلس چاته ویل کیږي ؟

۴۳ ځواب : مخلس هغه چاته ویل کیږي چې علم او پوهه نلري.

۴۴ سوال : مادیات څه ته وایي ؟

۴۴ ځواب : روپو او پیسو لرلو ته مادیات وایي .

۴۵ سوال : معناویات څه ته وایي ؟

۴۵ ځواب : هر هغه څوک چې علم او پوهه ولري او قرانکریم یي حفظ کړې وي معناویات ورته وایي.

۴۶ سوال : نثر په څو ډوله دی ؟

۴۶ ځواب : نثر په درې ډوله دي. (۱) عادی نثر (۲) حطابي نثر (۳) تحریري نثر

۴۷ سوال : هنر په څو ډوله دي ؟

۴۷ ځواب : هنر په درې ډوله دی (۱)

۴۸ سوال : پښتو ژبه څو ستوري لري ؟

۴۸ ځواب : پښتو ژبه پنځه ستوري لري؛ ګل پاچا الفت، عبدالروف بینوا، صدیق الله رښتین، عبدالحی حبیبي ، قیام الدین خادم

۴۹ سوال : ژبه څه شې دی ؟

۴۹ ځواب : ژبه د ټولې ټولنې د ټولو ویینو ښکارندویه او ساتندویه ده.

۵۰ سوال : لهجه څه ته ویل کیږي ؟

۵۰ ځواب : لهجه هغه غیرې معیاري بڼه ده چې یوازې د غړیدلو لپاره کارول او لیکل کیږي.

۵۱ سوال : لهجه په څو ډوله ده ؟

۵۱ ځواب : لهجه په دوه ډوله ده؛ ۱ غټه لهجه ۲ وړه لهجه

۵۲ سوال : غټه لهجه تعریف کړې ؟

۵۲ ځواب : غټه لهجه د عامو خلکو او نالوستو کسانو لپاره استعمالیږي.





شاهین او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۳ سوال : وړه لهجه تعریف کړئ؟**

**۵۳ ځواب : وړه لهجه د لوستو کسانو لپاره استعمالیږي.**

**۵۴ سوال : دیوان څه ته وایي ؟**

**۵۴ ځواب : د یو ملک ډیر لیکوالان چې یو کتاب ولیکي دیوان دی.یا د الف نه تر ی پورې چې ټولې قافیه ګانې ولري دیوان بلل کیږي.**

**۵۵ سوال : هورفیمونه څه ته وایي ؟**

**۵۵ ځواب : هورفیمونه هغه کلمې دي چې ځانګړې معنا نلري.**

**۵۶ ځواب : مقاله څه ته وایی؟**

**۵۶ ځواب : مقاله لیکنې ته وایی چې نسبت لنده خو د پنځو کرښو نه کمه نه وی.**

**۵۷ سوال : زده کړه تعریف کړئ ؟**

**۵۷ ځواب : زده کړه د تیرو نسلونو تجربې لاس ته راوړل زده کړه بلل کیږي.**

**۵۸ سوال : سبک تعریف کړئ؟**

**۵۸ ځواب : سبک د سرو زرو ویلي کیدل او په قالب کې اچول سبک دی او په اصطلاح کې طرز او طریقی ته سبک وایی.**

**۵۹ سوال : سبک په څو ډوله دی ؟**

**۵۹ ځواب : سبک په دری ډوله دی.**

**تصوفي سبک : لکه د رحمان بابا سبک** 1

**حماسي سبک : لکه د خوشحال خان سبک** 2

**هندي سبک : هغه سبک چې په لږو خبرو کې ډیر څه رانغاړي لکه د حمید بابا سبک.**

**۶۰ سوال : حمید بابا ته کوم لقب ورکول شوی دی ؟**

**۶۰ ځواب : حمید بابا ته د موستو ګاف لقب ورکړل شوی دی.**

**۶۱ سوال : مبالغه په څو ډوله ده؟**

**۶۱ ځواب : مبالغه په دری ډوله ده؛ ۱ تبلیغ ۲ اعراق ۳ غُلو**

شاهین او دانش



ترتیب کوونکي : لقمان دانش ( ګلابزی)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۲ سوال : کلیات څه ته وایی؟

۶۲ ځواب : کلیات هغه کتابونو ته ویل کیږي چې د یو شاعر د مړینې وروسته نثرونه او نظمونه سره یو ځای شی کلیات ورته وایی.

۶۳ سوال : لیک نښې څه ته وایي ؟

۶۳ ځواب : هغه علامې دی چې لیکوونکی او لوستونکي ته اسانتیا برابروي او د لوي لوي تیروتنو څخه یی ژغوري.

۶۴ سوال : کتاب تعریف کړئ؟

۶۴ ځواب : د عنوانونو مجموعې ته کتاب وایي.

۶۵ سوال : شخصیت څه ته وایي ؟

۶۵ ځواب : د یو شخص د خصوصیاتو مجموعې ته شخصیت وایي.

۶۶ سوال : د کلام توکي یا اجزاوې څو دی؟

۶۶ ځواب: د کلام توکي یا اجزاوې اته دي.

۶۷ سوال : نوم څه ته وایي تعریف یې کړئ؟

۶۷ ځواب : نوم هغه کلمه ده چې د یو شخص یو شي یو ځای په نومول کیږي.

۶۸ سوال : نوم د جوړښت له مخې په څو ډوله دی؟

۶۸ ځواب : نوم د جوړښت له مخې په دوه ډوله دی.

۶۹ سوال : ساده نوم تعریف کړئ ؟

۶۹ ځواب : ساده نوم هغه نوم دي چې یوې کلمې څخه جوړشوي وي.مثال : کتاب ، قلم

۷۰ سوال: مرکب نوم کوم نوم ته وایي تعریف یې کړئ؟

۷۰ ځواب: مرکب نوم هغه نوم دی چې ددوه کلمو څخه جوړشوې وي. مثال : فیل مرغ

۷۱ سوال : نوم د معنا له مخې په څو ډوله دی؟

۷۱ ځواب : نوم د معنا له مخې په پنځه ډوله دی.

۱ خاص نوم ۲ عام نوم ۳ ډله ییز نوم ۴ جنس نوم ۵ معنا نوم

شاهین او دانش



ترتیب کوونکي : لقمان دانش ( ګلابزۍ)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۲ سوال : فعل تعریف کړئ ؟

۷۲ ځواب : فعل هغه کلمه ده چې بغیر ددې نه جمله نیمګړې کیږي.

۷۳ سوال : فاعل تعریف کړئ ؟

۷۳ ځواب : کارکوونکي ته فاعل وایي.

۷۴ سوال : مفعول تعریف کړئ؟

۷۴ ځواب : مفعول هغه کلمه ده چې کار پرې اجرا کیږي.

۷۵ سوال : ضمیر څه ته وایي تعریف یې کړئ؟

۷۵ ځواب: ضمیر هغه کلمه ده چې د نوم د تکرار مخه نیسي .

۷۶ سوال : صفت تعریف کړئ ؟

۷۶ ځواب: صفت هغه کلمه ده چې د څېز ښه والې او بدوالې معلوموي.

۷۷ سوال : قید څه ته وایي ؟

۷۷ ځواب: د فاعل او فعل ترمنځ توپیر ته قید وایي.

۷۸ سوال: ادان یا توري تعریف کړئ؟

۷۸ ځواب : هغه کلمه ده چې ځانګړې معنا نلري که چېرې نورې کلمې ورسره یو ځای شي بیا معنا ورکوي.

۷۹ سوال : اکاډمیک څه ته وایي ؟

۷۹ ځواب : هغه باغ نوم دی چې ارسطو او افلاطون پکې شارګردان روزل او اوس علمی ساحې ته اکاډمیک وایی.

۸۰ سوال : مضمون څه ته وایي؟

۸۰ ځواب : خبرو اترو ته مضمون وایي.

۸۱ سوال : منځنپانګه څه ته وایي ؟

۸۱ ځواب : په عنوان کې دننه نوټ ته منځپانګه وایي .

۸۲ سوال: پراګراف څه ته وایي ؟





شاهین او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۲ ځواب : جمله  یا جملې چې یو ځانګړې فکر بیانوي پراګراف ورته وایي.

۸۳ سوال : د منځنۍ پیړۍ شاعران څوک وو؟

۸۳ ځواب : د منځنۍ پیړۍ شاعران : عبدالرحمان بابا   حمید بابا او خوشحال بابا وو .

۸۴ سوال : نصاب څه ته وایي ؟

۸۴ ځواب : حد او اندازې ته نصاب وایي .

۸۵ سوال :ارشیف څه وایي ؟

۸۵ ځواب : په علم کې چې پخوا هر څه تیر شوې وي په ارشیف کې ساتل کیږي.

۸۶ سوال : موزیم څه ته وایي ؟

۸۶ ځواب : ټول پخوانۍ اثار په موزیم کې ساتل کیږي .

۸۷ سوال : ردیفه څه ته وایي ؟

۸۷ ځواب : که دوه کسانو په اس سپاره وي دغه وروستي کس ته ردیف وایي.

۸۸ سوال : قافیه په لغت کې  څه ته وایي؟

۸۸ ځواب :  په لغت کې څټ یا شا ته قافیه وایي.

۸۹ سوال : غزل څه ته وایي ؟

۸۹ ځواب : هغه عشقي شعر ته وایي چې په  هغه کې د مېینو خلکو د غړو ستاینه کیږي.

۹۰ سوال : عزل په لغت کې څه ته وایي ؟

۹۰ ځواب : عزل په لغت کې د ځوانانو هلکانو او انجونو ترمنځ خبرو ته وایي .او ټول بیتونه یې په وزن برابر وي اود یوې مطلعې او مقطعې لاندې ویل کیږي.

۹۱ سوال : عزل څو بیته لري ؟

۹۱ ځواب : د عزل د بیتونو شمیر د پنځو څخه تر شپاړسو پورې وي،اوکله کله شلو پورې رسیږي.

۹۲ سوال : ادب پوهنه څو څانګې لري ؟

۹۲ ځواب : ۱  ادبې تاریخ        ۲  ادبی نظریې یا تیورې       ۳  کره کتنه

شاهین او دانش



ترتیب کوونکې : لقمان دانش ( ګلابزې)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹۳ سوال : حمد څه ته وايي ؟

۹۳ ځواب : حمد د الله (ج) س صفت اوثنا ته حمد وايي.

۹۴ سوال: نعت څه ته وايي ؟

۹۴ ځواب : د محمد ( ص ) صفت او ستاينې ته نعت وايي.

۹۵ سوال :کيسه څه ته وايي ؟

۹۵ ځواب : د تيرې زمانې د واقيعيتونو يا يادونو بيانول هغه که خيالې وي او که حقيقې وي کيسه بلل کيږي.

او کيسه زياته خيالې وي او داستان زيات حقيقې وي.

۹۶ سوال : صنعت څه ته وايې ؟

۹۶ ځواب : د خامو او لومړيو موادو بدلون په داسې يو شې چې د خلکو د استفادې وړوګرځې صنعت بلل کيږي.

۹۷ سوال :صنعت په څو ډوله دي ؟

۹۷ ځواب : صنعت په دوه ډوله دې، ۱ ماشينې صنعت ۲ لاسې صنعت

۹۸ سوا ل: ماشينې صنعت څه ته وايې ؟

۹۸ ځواب : ماشينې صنعت هغه مواد دې چې د ماشين په واسطه جوړيږي.

۹۹ سوال : لاسې صنايع څه ته وايي ؟

۹۹ ځواب : هغه مواد چې په هماغه سيمه کې پيداکيږي او خلک يې په اسانې او ارزانه بيه ترلاسه کوي د لاسې صنايع په نوم ياديږي.

۱۰۰ سوال : ضمير څه ته وايي تعريف يې کړئ؟

۱۰۰ ځواب : ضمير هغه کلمه ده چې د نوم پرځای استعماليږي او دنوم د تکرار مخه نيسي .

۱۰۱ سوال :ضمير په څو ډوله دی ؟

۱۰۱ ځواب : ضمير په اووه دوله دی.

۱۰۲ سوال : ځانګړې ضمير تعريف کړئ؟

۱۰۲ ځواب : ځانګړې ضمير هغه ضمير دی چې د کسانو او اشخاصو لپاره کارول کيږي.

شاهين او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۳ سوال : ځانګړې ضمير په څو ډوله دی؟

۱۰۳ ځواب : ځانګړې ضمير په دوه ډوله دی. ۱ غښتلي ضمير ۲ کمزورې ضمير

سوال :غښتلي ضمير تعريف کړئ؟

۱۰۴ ځواب : غښتلي ضمير هغه ضمير دی چې په يوازې توګه کارول کيږي له بلې کلمې سره نه يو ځای کيږي او په خپلواکه توګه معنا ورکوي.

۱۰۵ سوال : کمزورې ضمير تعريف کړئ ؟

۱۰۵ ځواب : کمزورې ضمير هغه ضمير دی چې په خپلواکه توګه معنا نه ورکوي او که له نورو نومونو سره يو ځای شی معنا يی څرګنديږي.

۱۰۶ سوال : ملکي ضمير تعريف کړئ؟

۱۰۶ ځوا ب: ملکي ضمير هغه ضمير دی چې يو څيزپه څه يا يو چا پورې اړوند بولي.

۱۰۷ سوال : اشاري ضمير تعريف کړئ؟

۱۰۷ ځواب : اشاري ضمير هغه ضمير دی چې اشخاصو او څيزونو ته اشاره کوي او د هغوي پرځای استعماليږي.

۱۰۸ سوال : استفهامي يا پوښتنيز ضمير کوم ضمير ته وايي ؟

۱۰۸ ځواب : پوښتنيز ضمير هغه ضمير ته وايي چې د پوښتنې لپاره کارول کيږي.

۱۰۹ سوال : پلوي ضمير کوم ضمير ته وايي ؟

۱۰۹ ځواب : پلوي ضمير هغه ضمير ته وايي چې د اشخاصو له پلوه د يو عمل لوری راښايي. او د فعل د مخه راځي.

۱۱۰ سوال : مبهم ضمير تعريف کړئ؟

۱۱۰ ځواب : مبهم ضمير هغه ته وايی چې د يو ناڅرګند شخص لپاره کارول کيږي.

۱۱۱ سوال : اشتراکي ضمير کوم ضمير ته وايي ؟

۱۱۱ ځواب : اشتراکي ضمير هغه ضمير ته وايي چې د لومړي دويم او دريم شخص لپاره او هم د مفرد او جمع لپاره يو ډول استعماليږي.

۱۱۲ سوال : ليک نښې تعريف کړئ ؟



ترتيب کوونکي : لقمان دانش ( ګلابزې)
ليکوال : شهاب ( شاهين)

شاهين او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۱۲ ځواب : لیک نښې هغه علامې دي چې لیکوونکې او لوستونکې ته اسانتیاوي پیښوي او انسان په خپل ژوند کې د لویو لویو تیروتنو څخه ژغوري.**

**لیک نښې لاندې علامې لرې:**

**(،) کامه یا ویرګل**

**(.) نقطه**

**(:) شارحه**

**(ـ) بیلنی یا ډش**

**(؟) سوالیه**

**(!) ندایه**

**([]) قوس**

**(...) د حذف یا تیریدنې نښه یا ځنګ په ځنګ ټکې**

**۱۱۳ سوال : املاء تعریف کړئ؟**

**۱۱۳ ځواب : د خپلو یا د بل خبرو سمې لیکنې ته املاء وایي .**

**۱۱۴ سوال : متلونه څه ته وایی ؟**

**۱۱۴ ځوا ب: متلونه هغه لیډې له مطلبه ډکې جملې دی چې ویونکې د خپلې وینا او ادعا**

**۱۱۵ سوال : انشاء څه ته وایی ؟**

**۱۱۵ ځوا ب: انشا په لغت کې د یو نوي شې پیدا کیدو ته وایی او په اصطلاح کې د یو نوي او خیال څرګندیدو ته انشاء وایي.**

**۱۱۶ سوا ل: انشا تعریف کړئ؟**

**۱۱۱۶ ځواب : انشا په نظم یا نثر د خپلو افکارو او خیالونو څرګندولو ته انشاء وایي.**

**۱۱۷ سوال : لنډه کیسه څه ته وایي په اړه یي معلومات راکړئ؟**

شاهين او دانش



ترتیب کوونکې : لقمان دانش ( ګلابزې)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱۷ ځواب : لنډه کیسه د نثري کیسو یو ډول دی چې لنډه او له داسې عناصرو جوړه شوی وی چې له یو بل سره تړلې وی او دیو د بل اغیز لاندې وی موضوع یې د خپلو حدود په چوکاټ کې وي او بې ځاې ځبرې پکې نه ځاییږي.او د لنډې کیسې حد به (۲۵۰۰ ) کلمې وی

۱۱۸ سوال : ناول څه ته وایي ؟

۱۱۸ ځواب : ناول لغوي معنا نوې،تازه، او عجیبه څیز دی چې له لنډې کیسې څخه لوی او له رومان څخه لنډ وی.

د ناول حد (۴۰۰۰) نه تر (۶۰۰۰) پورې دی.

۱۱۹ سوال : رومان تعریف کړئ؟

۱۱۹ ځواب : رومان فرانسوي کلمه ده چې معنا یي خیالي داستانونه او بله معنا یي دمینې او محبت کیسې دی، اوپه اصطلاح کې هغه کیسې ته وایی چې له ناول څخه اوږده وي.

۱۲۰ سوال : ادبي ټوټه څه ته وایي؟

۱۲۰ ځواب : ادبې ټوټه د هنري ادبیاتو یو ډول دی چې دمنثور شعر په نامه هم یادیږي او اصلاً یو نثر دی خو شعر کیفیت لري.

۱۲۱ سوال : ادبي لیکونه څه ته وایي ؟

۱۲۱ ځواب : ادبې لیکونه هغه لیکونه دی چې په ځانګړې هنري او ادبې بڼه لیکل کیږي او د لیکنې طرز یې دومره په زړه پورې وی چې لوستونکې یي په لوستنه نه مړیږي.

۱۲۲ سوال :ادبي راپوتاژ څه ته وایي ؟

۱۲۲ ځواب : ادبې راپوتاژ د هنری ادبیاتو نو ځانګړې ژانر دی چې عادی ژانر سره یی فرق دادی چې ادبې راپوتاژ د پیبنې تعبیر ، تفسیر ،او تحلیل په ادبې هنري ژبه شوی وی.

۱۲۳ سوال : طنز څه ته وایي ؟

۱۲۳ ځواب : طنز یوه عربې کلمه ده چې لغوي معنا یې ناز، کرشمه، پیغور او مسخره کول دی. او ادبې اصطلاح کې د هنري ادبیاتو یو ژانر دی چې په لیکنه کې د لیکوال اصلې مقصد انتقاد وی.

۱۲۴ سوال : ډرامه څه ته وایي ؟

شاهین او دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲۴ ځواب : ډرامه د یو ژوندي کیسي نوم دی چې ټول احساسات او جزبات پکې د حرکت او خوځیدو په واسطه څرګندیږي.

۱۲۵ سوال: ډرامه د موضوع له مخې په څو ډوله ده؟

۱۲۵ ځواب : ډرامه د موضوع له مخې په دوه ډوله ده ۱ نراژي ۲ خندنی

۱۲۶ سوال : ډرامه د جوړښت له مخې په څوډوله ده ؟

۱۲۶ ځواب : ډرامه د جوړښت له مخې په درې ډوله ده .

۱ د ستیج له لارې ۲ د راډیو له لارې ۳ د تلویزیون له لارې

شاهین او دانش

که په پورتنیو سوال او ځواب کې کومه علطي شوې وی نو مهربانې له مخې مونږ ته خپلې علطې را په ګوته کړئ..

موبایل شماره :

0731600572 /0729052264

Fb / Shahab Shaheen shinwari



ترتیب کوونکې : لقمان دانش ( ګلابزی)
لیکوال : شهاب ( شاهین)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**